دوکتور صلاح الدین سعیدی

27 فبروری، ۲۰۰۹

# جلالی صاحب به د چا نوم اندی او د چا استازیتوب به کوی؟

ما د پورتنی سرلیک لاندی د ښاغلی ځپاند لیک او نشر شوی مطلب د لر او بر افغانستان په ښایسته او وتلی ویب پاڼی کی ولوست غواړم چه په دی هکله زه هم خپل رسالت اداء کړم. د وخت د لږ والی له کبله صرف او صرف دښاغلی ځپاند د لیکنو په سلسله خپل ملاحظات وړاندی کوم.

- د چا ژوند لیک وړاندی کول او په خاص ډول د افغانستان د وتلی او مطرح شخصیت ژوند لیک وړاندی کول او هغه د شمال ټلوالی په غبرګون ختمول صادقانه خبر خو نه ده چه نه ده بلکه تحریف او استادانه تحریف دی.
مونږ مسلمان یو په زړونو الله پوه دی او شرع ظاهر ته ګوری. که داسی وی چه د یو پوه مسلمان، ولسواکی پلوه او د قانون بنسټه ټولنیز سیستم د ټینګ پلوی په توګه د خلکو له اعتبار او د .... او د افغان ولس دداسی نوم سره آشنا کول هدف وی – نو د ویلو وړ ګڼم چه ستاسی لیکنه ددی ګواهی نه ورکوی. داسی ښکاری چه هدف مو د مخه تعیین کړی او وروسته ورته دلایل لټوی. زما سپارښت دادی چه برعکس رویه غوره کړی. لمړی دلایلو ته غوږ کیږدی او بیا هدف تعیین کړی او قضاوت وکړی. داسی بریښی چه تاسی په دی هڅه کی صادق نه یاست. دلیل وایم او لطفا هغه په دقت ولولی.
تاسی په هر قیمت غواړی تور سپین کړی او سپین تور. ډاریږی چه خپل کاندید په ګوته کړی او دا هم له دی کبله چه هغه ایدیال شخصیت چه تاسی تصور کوی اول نشته او دوم امکان نه لری. مونږ په افغانی ټولنه کی افغانی رهبری او زعامت ته ضرورت لرو. مونږ مدینه فاضله او او نورو ایدیالی او تصوری رهبرانو ته انتظار نشو ایستلی.
ضرورت دی اداره او منجمنت اصلاح شی او خلک خپل مشران او زعما و ټاکی. خبره نه اوږدوم مشخص او په ترتیب ستاسی د خبرو په ارتباط خپل نیوکی او ملاحظات وړاندی کوم.

۱- که خبر داوه چه ستاسی د خپل لیکونو او تهمتونو په هکله د لوستونکو لیکونو رانقلول نو انصاف دا وه چه تمام موافق او مخالف لیکونو ته پام وکړی او داسی نر والی ولری چه په بی ځایه تهمتو او غیبت مو اعتراف و کړی. ددی سوال ځواب چه ستاسی کاندید څوک دی لا تر اوسه مو په ګوته نه کړ. علت هم لری هغه داچه همغه اعتراضونه اوپه هر قیمت اعتراضونه چه تاسی په بل کوی ستاسی د کاندید په هکله هم مطرح دی. په تیرو پسی ژړل اومثالی آینده رهبر چه په مقدسو کتابو کی یی مثالی نمونی لیکل شوی میندل ناممکنه او خیالی خبر ده. په داسی انتخاب کی په اوسنی شرایطو کی ډیر نور ملحوظات او د افغانستان د خلکو امکانات او ګټی په نظر کی نیول په کار دی. په داخل د امکاناتو عمل کول په کار دی. د سیاست الفباء حکم کوی چه په سیاست کی دایمی دوستان او د ایمی دښمنان نه شته مصالح او منافع دی. اولویتونه تعیینول په کار دی. په اوسنی شرایطو کی محترم پروفیسور علی احمد جلالی د افغانستان تجربه شوی او وتلی ملی او سیاسی شخصیت داسی مشخصات لری.
داددی مانا نه ده چه په دی وطن کی بل څوک نه شته چه په مشترک تیم او زعامت کی برخه ولری. هغه د یوه شخص پاچایی دوره تیره ده. هو په دی وطن کی الحمد لله نور خدمتګار شخصیتونه او مطرح اشخاص شته په باید سره لاس ورکړی او د متحدو اولیتونو لپاره کار وکړی. دا د زمان ضرورت دی.
په دی پوهیږو چه په افغانستان کی د سلو نه زیات سیاسی ثبت شوی احزاب او سازمانونه طبیعی خبر نه ده او مشابه احزاب او سازمانونه باید سره یو شی او اتحاد عمل ولری. زه باور لرم چه دا به کیـږی. صرف د وخت سوال دی. مشابه حالتونه د جهان په نورو ټولنو کی وجود لره او افغانستان په معینی انکشافی مرحلی کی قرار لری چه باید مثب طرف ته حرکت وکړی. د حزب او سازمان موجودیت د افغانستان د مسایلولپاره د حل مطرح لاری دی. او دا د حل لاری نه سل دی او نه د سلو نه زیاتی. دا د حل لاری حد اکثر د ۵ نه تر لسو پوری کیدای شی. په دی اساس په افغانستان کی سیاسی ګوندونه هم باید په داسی شمیر ته په طبیعی بنه راکښته شی.

بیرته راشم ستاسی لیکنو ته.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

۲- هو ملت باید بیداره اوسی چه دی او مونږ ته په کار نه ده چه په مغرضانه لیکنو خلک گمراه کړو. هو د افغانستان د وتلی شاعر او متفکر ښاغلی باری جهانی او نورو وتلو شاعرانو نه الهام اخیستل ښه خبر ده. دوی په ښایسته ډول د وطن او افغان دوستی احساسات متبلوروی. هو داښه خبر ده چه نا اهله رهبران وطن د تباهی خواته وړلی شی.

چه نا اهله په وطن کی په قدرت وی - تباهی به یی لیکلی په قسمت وی.
همداسی لیکوالان، روشن فکران او... هم خپلی مثبتی او منفی اغیزی لرلی شی.
زه هم راځم ستاسی په وینا ستاسی د مضمون بنسټیزو ټکو!؟ او ستاسی په سلسله درته لیکم:
۳- ستاسی اساسی ټکی د (۱) د نمری لاندی په دی بی اساسه دی چه د افغانستان او نړی واقعیتی ته پام نه لری. ددی خبری نه موداسی معلومیږی چه د افغانستان د خلکو، ماشومانو ، کوندو رنډی ژړا او بی عزتی مو په گاونډیو هیوادو ، پاکستان او ایران او .... له یاده ایستی او هغه د پاکستانی تاڼه دارانو او خورد ضابطانو ناندور پسی خپه شوی یاست. یعنی داچه نړی او امریکی به پاکستان ته مرستی ورکړی. د پاکستان پوځیانو به غوښه ترینه واخیسته او پاتی به یی څه افغانانو ته ورکول تر څو ددوی استراتیژیکی اهدافو ته کار ور کړی. ووایاست داسی نه وه او همدا اوس هم بعضی سیاسی قوتونه و شخصیتیونه په همدی لومه کی بند نه دی؟ هو داسی ښکاری چه د هغه وخت د مقاومت بعضی رهبران او د اوسنی دولت دربار ته ډیرنږدی کسان او مسؤلین لاتر اوسه د همغه اسارت لاندی دی؟
په دی هلکه می نړی، او دپاکستانی اوسنی انتخابی حکومت ته چه ځان د افغانستان په هکله د پاکستان د پرونی دومخه سیاست نه جدا گڼی او د نړی قوتونو ته چه د افغانستان مسأله په ریښتیا حلول غواړی – یو وړاندیز، سپارښ او یو مشوره لرم او هغه داچه: له دی کبله چه په اوسنی افغانستان کی دا یوشمیر مشران !؟ د هغه وخت د ضرورت او امکاناتو له مخی پاکستانیانو ته ناست وه او اوس هم ډیر خلک پیژنو چه د پاکستان او بهرنی دښمنو استخباراتی اداراتو له ( ای اس ای) ته کار کوی. نو ښه به دا وی که د افغانستان مسایل حلول غواړی د پاکستان د ( ای اس ای ) د اداری په رنگولو کی د افغانستان د جوړیدو او آرامی عوامل شته.
هغه د حضرت محمد ( ص) د هجرت قصه را یاده شی. آنحضرت ( ص) د لمړی ځل لپاره د اسلام په لمړی ورځی کی امر وکړ چه هجرت وکړی د نورو هیوادو څخه مرسته و غواړی اما خپله هیڅ کله د غیر حکومت لاندی ژوند ته حاضر نه شو. خپله یی هغه وخت هجرت و کړ چه د خپل حکومت پایی یی هلته بهر کی کینودی. داخبره په خپل ذات کی ډیر عمیق الهام او سپارښت لری.

ځپاند صاحب بیرته راشم ستاسی (بنسټیزو ټکو!؟) ته:

۴- د محترم جلالی صاحب کمپاین په کابل کی....( ستاسی د مضمون ۲ بنسټیز ټکی) ستاسی استدلال بیا هم ضعیف او دلیل مو بی بنسته دی. هر څوک د چا د کاکا زوی او د چا د ماما زوی او د چا تره او تربور دی. داسی قالبی او مثالی شخصیت چه تیره و نه لری، دوست، خپل او خپلوان و نه لری له کومه کوی. آیا د حضرت محمد (ص) پلار او مور او د هغه حضرت نږدی ترین شخصیت یعنی تره په نامه د عباس کافران نه وه؟ ستاسی دادلیل چه هغه فلانکی د فلانکی کاکا او دبیسمدانی ماما دی واقعا ضعیف دی.
یو مثال درته وایم: آیا جنرال عبدالروف د کندهار پخوانی والی د دوستم معاون نه وه. تاسی دا تهمت به جنرال صاحب عبدالروف باندی لگولی شی چه هغه دی دوستمی وی. داسی مثالونه په زرهاو دی او شته. دا خبره مو بیا هم منطق نه لری.

۵- ستاسی د بلی اشاری په هکله: په افغانستان کی څه پټ پاتی نه دی چه د هغه دی جاسوسی بهرنیو مراجعو ته وشی. که خیال لری چه نړی دی د پاکستان له لیاری افغانستان سره اړیکی ولری او همغه مو خوښیږی. ستاسی انتخاب دی. زه باوره لرم دا مونږ ته بهتره وی او لوړ تر حالت به وی چه د نړی سره او د نړی د واقعیتونو سره مستقیم په تماس اوسو. که د پاکستان د پوځی استخباراتو جاسوسی اداری تاسی او ستاسی د نظریاتو په شان بیا زمینی برابرول غواړی - مونږ یی په مقابل کی ولاړ یو او دا زمونږ مسؤلیت دی چه وطنوال ورته متوجه او فرصتونه له لاسه ورنکړو. که تاسی د پاکستان دال او چپاتی پسی خپه شوی یاست مونږ نه.

۶- ستاسی د مضمون دریم ټکی:
غربی او شرقی فکر وجود نه لری. عقلی، منطقی او انسانی او هوښیاره خبر خو داده چه دا سرحدونه مات کړی. مشکل او ستونزه مطرح کړی او د حل لاری و لټوی. افغان متفکر به همغه انسانی لار لټوی چه د افغانستان په شرایطو برابره


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

وی. تعصب او پیشداوری لری، د بشری لاسته راوړنو په هکله تعصب کول بی ځایه کار دی. زما په پوهه او اند پریږدی داچه خبر د چا د خولی وځی. واوری خبره چه څه وایی؟ په پخوانی سرحداتو باندی تأکید کول او خلک بیلول بی اساسه خبر ده. له دی سره سره مونږ. خپل کار آسانوو او ټاپی مو په جیبونو کی دی او هر څوک چه مو خوښ نه شو نو بیا پری رنګارنګ ټاپی وهو. د الله ته وډاریږی او خپل وجدان او ګریوان ته سر کښته کړی. لاس سره وکړی او فتنه بس ده. اما عملا د پردو اهدافو ته کار کول د وطن اولویتونو او واقعیتونه په نظر کی نه نیول، افراط او تفریط کول خطاء دی. د افغانستان خلکو ډیر رنځونه لیدلی او ګاللی. رحم په کار دی. شعر او شاعری می خوښیږی خو سیاست دکلمه کول او سیاست خوش خوانی کول راته غیر مسؤلانه او شوقی خبری ښاری. جدی مسایل دی د افغانستان د خلکو سرنوشت دی او د افغانستان د خلکو په زخمونو پټی اینودل دی او نور فرصتونه لږ پاتی. د الله تعالی نه ډار په کار ده.
ستاسی د هر یو په جیب کی یو دوه بهرنی پاسپورتونه شته دا څه مانا لری چه په دی نامه په هر قیمت غواړی استدلال و کړی. افغان افغان دی او هیڅ څوک حق نه لری د افغانستان د تابعیت نه څوک و باسی. دا یو حقوقی مسأله ده چه د افغانستان خلکو او پارلمان څنګه فیصله وکړه همغسی کول په کار دی.

۷- تاسی وایاست او بی بنسټ ادعا لری چه د جلالی صاحب په خبرو کی د اوږد مهاله ستراتیژی .... بی ځایه تهمت دی. ددی نه پاس هغه د شوروی سوسیالستی هیوادو اوږد ۵ کلن او ۲۵ کلنو استراتیژیکی پلانو دوره چه په رهبری شوی اقتصاد ولاړه وه تیر دی. زه په دی باور لرم چه حتی د افغانستان د ریاست جمهوری په اوسنیو کاندیدانو کی او د هغه نه بهر داسی علمی او اکادمیک شخصیتو نه شته چه د زمان په تیریدو د وطن د مصالحو او خلکو ته به د خدمت او وحدت لاس ورکړی او که چیری نن سیاسی رقیبانو وه سبابه په یو ټیم کی سره کار کوی. زه د ښاغلی باراک اوباما او میرمن هیلری کلینتون اوسنی همکاریو په نظریاتو معتقد یم. ستاسی د معلوماتو له پاره د یو وطن جمهور رئیس او یا هم وزیر حتمی نه دی جامع الکمالات وی او په ټولو اقتصادی، حقوقی، زراعتی او صحی او ..... مسایلو پوه شخص اوسی. جمهور رئیس سیاسی پست دی. تاسی څنګه ویلی شی چه یو شخص چه خپل تمام عمر یی په مطبوعاتو او استادی او اداری کارو کی کار کړی او هغه به اوږدمهاله له ستراتیژی څرک نه لری. دا مو افراط کړای. له بلی خوا وایی درواغجن حافظه نه لری. خپله او ستا دوستان وایی چه : جلالی صاحب لکچرونه ورکړی او علمی کارونه یی کړی او د افغانستان د خلکو آواز یی دنیا ته رسولی او .... پوښتنه کوم آیا لا تر اوسه هم ګمان کوی چه څوک دلته په دی بهرنیو ټولنو کی علمی کارونه و کړی. په مطبوعاتو کی دی کار و کړی او نړیوال د آخرینو تخنیکی او علمی مراجعو ته دی د لکچرونو توان و لری اما ستاسی په قضاوت - استراتیژی څرک نه لری. ریښتیا چه افراط مو کړای او دمنلو وړ خبر نده. او له دی برسیره لطفا لږه کره کړی چه منظور مو ددی استراتیژی څرک نه څه دی؟ زه دی ددی خبری په محتوی بی باوره کړم.

۸- د محترم حامد کرزی په حکومت کی د محترم پروفیسور علی احمد جلالی د کار دوره او د متخلفینو لست:
په دنیا کی داوسنی دموکراسی سیستم لجام ګسیختګی اود هرج و مرج په مانا نه دی. دولتداری او اوسنی سیاسی نیمګړی دیموکراسی کی د کار قاعده داسی ده چه یا د نظام د حاکمیت د سیاست را موافق یم یا مخالف. یا قانون اساسی و عمد ی اصولو سره موافق یم او یا مخالف دا ستا کار او ستاحق دی. اما که د قانون سره په شمول د اساسی قانون سره مخالف یی نو د قانون د تغییر لپاره د انقلاب حق نلری. د کودتا حق نه لری . پوهنتون او علمی مراکز د خپلو سیاسی اهدافو لپاره نشی استعمالولی. هغه تیر وخت او هغه میتودونه اوس زاړه دی. په قانون کی د قانون د تغییر شرایط وجود لری. که چیری هغه نه خلاف و کړی باید د قانون پنجو ته وسپارل شی. د لوبی قاعدی داسی دی. تاسی همدا اوس په غرب کی یاست ددی مطالبو د پوهیدو لپاره کوم یونیورسټی او لکچر ته حاجت نه شته.
بله خبر داده چه د حکومتی مأمور حق نه لری دخپل آمر پرخلاف په مطبوعاتو کی خبر وکړی. د دولتداری قاعده او قانون داسی دی که آمر خلاف کار کوی نو زیر دست ته یکار دی چه خپل آمر د تخلف کار ته متوجه کړی. که چیری آمر بیا هم تاکید کوی نو زیر دست ته په کار ده چه د آمر امر اجرا ء او یا هم د وظیفی نه لاس واخلی. که امر یی اجرا کړ نومسؤلیت یی هم همغه آمر لری چه امر یی ورکړی. که مأمور شهامت لری او د امتیاز نه تیریږی نو بیا خلاف کار نه کوی او د داسی آمر د ټیم نه وځی او استعفاء ورکوی. محترم پروفیسور علی احمد جلالی داسی شهامت وکړ. سره له دی چه مثال دقیق سل په سلو کی په حالت مطابقت نه کوی اما په یو ډول شباهت لری.
ددی سره سره عدالت په کوڅه او افواهاتو نشی تامینیدلی. دا محکمه دی چه د حق او حق تمیز باید وکړی. د تعجب خبر خو داده چه داسی لست ته که وجود لره . تاسی عادی لست وایاست. واقعا افراط کوی. داسی لست ته عادی لست ویل بی مسؤلته خبر ده. او مخکی د محکمی د حکم نه تاسی د مجرم لفظ استعمالوی. خپله بی عدالته خبر کوی اوبل څوک چه د قانون سره سم یی عمل کړی د عدالت په تأمین یی شک کوی.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

تاسی ته په کار ده د مظنون، مشکوک ، متهم، توقیف ، زندان ، مدعی علیه، محکوم علیه ، د ابتدائیه حکم. مرافعه حکم ، د تمیزحکم، نهایی حکم ، مجرم مفهوم او داسی نور حقوقی مسایلو باندی ځان پوه کړی او بیا په چا په دی هکله خبری وکړی. د تاسی د معلوماتو لپاره د جنایی او د تحقیق د علومو په اساس د مشکوکو افرادو دایره د جرم د واقع کیدو وروسته ډیر ه پراخه وی. جنایی او مسلکی افراد د تحقیقاتو او حلو ځلو په نتیجه کی د مشکوکو افرادو دایر اولست محدودوی او مثلا د سلو تن نه یی ۵ یا شپږو ته کښته کوی او بیا آهسته آهسته د تحقیقاتو په جریان کی اصلی مجرم په ګوته کیږی. همغه متهم هم د اتهام د ا وردیدو وروسته د ځان د دفاع حق لری. بعد له دی چه پولیسو او یا څارنوالی شخص ته اتهام نامه و لوستله ( ورکړه) بیا متهم دفاعیه محکمی ته لیږی. بعد له هغه محکمی دایریږی او د احتیاط لپاره دری محاکمو او ستری محکمی څخه موضوع تیریږی. حتی که مدعی علیه وکیل نه لری حکومت مجبور دی د دولت په پیسو ورته وکیل و نیسی. بعد له دی محکمو او ستری محمکی نه وروسته بیا هم د عدلی وزیر ته د لا غور دپاره د قانون د تخلف په وجه د بیا تحقیق امکانات شته. ددی د پاسه په اوسنی عصر کی د بین المللی محاکمو ته د مراجعی امکانات هم شته. تاسی دا تمام مراحل تیر کړل او د مجرمینو لست غواړی. د تعجب خبر ده.

زه درته یوه فرضیه وړاندی کوم: امنیتی ارګانونه په مختلفو وسایلو د امنیت لپاره کار کوی. امنیتی مراجع مختلف تحقیقاتی ارګانونه لری او حتی افواهات هم راټولوی. لستونه جوړیږی او یا انفرادی تحقیقاتی معلومات تر لاسه کیږی. مثلا د قندهار امنیتی مراجع لاری دروی چه مال په کی دی. د لاری چلوونکی د لاری د لټولو نه ممانعت کوی. په دی سلسله کی د حکومت یو لوړ پوړی مامور هدایت ورکوی چه مال او لاری خوشی کړی. دا یو راپور دی د تحقیق لپاره . ولی داسی لاری خوشی شوه؟ د چا په امر خوشی شوه او څه اهداف وه؟ په لاری کی هیروبین وه که وسله ؟ چاته تله او داسی نور سوالونه. د څرخی پله د زندان نه بندیان تښتی . دامسأله څومره سازمان ورکړ شوی؟ د استخباراتو نفر پکښی خوشی شوی اویا هم عادی رشوت وه؟ دا او داسی نوری مسألی چه د هر څیز امکان شته . داسی لستونه هم وجود لرلی شی. خواساس یی معلومول په کار وه. که سیاسی اراده د عدالت د تأمین له پاره نه وه. او د وخت د داخلی وزیر په جریان کی نه وه نو په داسی حالت کی دوه لاری دی یا به د رشوت خوری سره لاس یو کوی او جبونه به ډکوی او یا به اعتراض کوی او یا به استعفا ء . زما په پوهه محترم علی احمد جلالی دا دریمه لار انتخاب کړه. اوس نو که زه دالست افشاء کړم او په دی لست که ستاسی نوم په داسی کوم جرم عمل کی د مشکو ک په توګه وجود لری او سیاسی اراده د عدالت د تأمین اراده نه لری نو آیا تاسی به زما په ضد د اعاده حیثیت دعوه و نه کړی؟ ځواب د لمر روښانه دی . ځپاند صاحب افراط کوی. په داسی مواردو کی قانونی نظام مکلف دی خپل د تحقیقاتو نتیجه عدلی او قضایی مراجعو ته وسپاری. او دا هغوی دی چه تصمیم نیسی. نه د داخلی وزیر او یا نور اداری ارګانونه. که ددی اوږد تفصیل نه وروسته بیاهم ددی شهامت نه لری چه په خپله بی ځایه خبره اقرار وکړی نو تاسی ته هیڅ څوک قناعت نه شی درکولای او بیا ما ته په کار ده چه زه سکوت و کړم ستاسی په مقابل کی.

همغسی چه می د مخه وویل داچه محترم علی احمد جلالی د داخلی د وزارت څوکی پریښوده او د امتیاز نه تیر شو او له بلی خوا د خرابی او ویجاړی عامل نه شو. سیستم براندازی ته یی لاس و نه واهه او د خپلو برحقو اهدافو لپاره یی اوسنی لار غوره کړه دا دده پوخوالی ، متانت او هماغه استراتیژیکی ځرک ثابتوی . چه دداسی خدمتګارانو باید قدر وشی او د کار او خدمت نوری زمینی ورته برابری کړو نه دوی پسی داسی غیبت او تهمتونه چه تاسی پیل کړی وکړو.

د ښاغلی علی احمد جلالی او د هغه د داخله چارو په وزارت کی د کار موده او اجراات:

زه په دی باور یم چه دداخله چارو وزارت دقانون د تطبیق په منظور حقوق پوهه انسان د سیاسی ارادی د لرلو سره ښه په مخه وړلی شی. محترم پروفیسور علی احمد جلالی د خپل کار په موده کی بی ساری او قاطع عمل کړی او صادقانه خدمت یی کړی.

د ویلو وړ ګڼم چه د ښاغلی حامد کرزی په اوسنی نظام کی ډیر بادرده او با احساسه خلک شته چه متاسفانه سیستم یی لاس تړلی او د خدمت امکانات یی محدود دی. زه له دی لاری د افغانستان د جمهوری ریاست کاندیدانو ته پیشنهاد کوم چه په خپلو بیاناتو او خط مشیو کی دوی ته اطمینان ورکړی چه که دوی د افغانستان د جمهوری ریاست کرسی ته انتخاب شول د مخلصو، با کفایته او خدمتګارو مأمورینو ته چه د محترم حامد کرزی د حکومت په هر دولتی پست کی چه وی د نور خدمت زمینه به هم برابریږی.

زه په دی باور لرم چه د اوسنی کاندیدانو تر منځ د رقابت سره سره به دوی په راتلونکی افغانستان کی په دولتی پستونو کی د نورو خدماتو امکانات لری.



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

راځی چه د یو نورمال ، مدرن او ۲۱ پیړی د نظام د جوړولو دپاره په افغانستان کی کار وکړو. د کار او مسابقی او ددی نیمګړی دموکراسی اصول مونږ هم زده کړو. افغان ددی استعداد لری او ددی ټولنی روشنفکران او منورین باید خپل مثبت رول په دی هکله په متانت او پیګیری أداء کړی. مونږ هم ددی حق لرو په خپل وطن کی د خپل وطن او د ځان سرنوشت په خپل لاس کی ونیسو. هوښیار تیا ، بیداری، نوی اولویتونه، او د وطن او غم لیدلی ملت ته د چوپړ لپاره په نیکی او پاکی ارادی حاضر شو او کار وکړو.

۹- فدرالی نظام: اول باید دا پوښتنه له ځانه و کړی چه د فدرالی تر عنوان لاندی څه غواړی؟ فدارلی څه ته وایی ؟ د فدرالی فرق د کنفدرالی سره؟ د اصطلاح تاریخ ؟ د دی اصطلاح لغوی او اصطلاحی معانی؟ ددی اصطلاح مفاهیم په تاریخی لحاظ ؟ ددی اصطلاح مفاهیم په تاریخ کی؟ په امریکا کی؟ په آلمان کی؟ او د هغه مطالبه او محتوی په افغانستان کی؟
که د فدرالی نه هدف کاغذ پرانی لږول، اداری اپرات لږول، د محل صلاحیت محل ته ورکول، د والی او ولسوال د مرکز د قانو ن سره سم د محل نه انتخابول وی او .... دا فدرالی بده خبر نده او ښه کار دی. که د فدرالی نه هدف د بی قانونه محلی قوماندانو حاکمیت احیاء کول، او د افغانستان تجزیه ته زمینه برابر ول دی نو د هغه په مقابل کی مبارزه په کار ده. بی ځایه تهمت لږول په کار ندی. فدرالی د یو ستراتیژی په توګه بده خبر نه ده اما د افغانستان په اوسنی شرایطو کی فدرالی د افغانستان تجزیه ده. او دا خیانت دی. محترم پروفیسور علی احمد جلالی دا خبره هیڅ کله نه ده کړی او تاسی تهمت کوی.

۱۰- داچه د پروفیسور علی احمد جلالی لیدو ته ځوک راغلی دا د هغه د تائید په معنا نه او تاسی وایاست چه ناوړه ګټه اخیستل شوی. او ..... بیا هم افراط او بی مسؤلیته خبر کوی. تاسی څنګه داسی ویلی شی؟ آیا هغه تمام بعد له جلالی صاحب له ملاقاته تاسو ته ګذارش درکړی چه داسی څه یی ویلی او یا یی نه دی ویلی؟ بیا هم په هر قیمت په بل تهمت لګوی. تاسی ته داسی شاخداره درواغ ویل نه ښایی.

۱۱- د تخار د کډوالو مسأله یوحقوقی مسأله ده چه کیدای شی بعضی عناصر ځینی سیاسی ګټه واخلی. د افغانستان اوسنی حاکمیت یو وار بیا خپله بی کفایتی وښودله او د افغانستان د خلکو د مشکلاتو ته یی پام و نه کړ. پوهیږو چه د افغانستان په اداری مراجعو کی حقوقی او قضایی مسایل حلیږی. پوهیږو چه د قانون مراعات نه کیږی او دا اوسنی نظام د قانون د تطبیق توان نه لری. اما سیاسی نظریات بی ارتباط وړاندی کول او لوستونکی په تاریکی کی قرار ورکول تاسی ته مناسبه نه ده.

۱۲- ستاسی د لسمی نکتی چه محترم جلالی صاحب مو په قوم غلجی او هغه مو دیګان کاږلی بیا هم ستاسی همغه د سترګو پټی هځی دی. په هر قیمت هدف تعیین دی او دلایل باید ورته پیدا کړی.

زه په دی باور یم چه د دولتی لوړ پوړه کار کوونکی باید د ملت نمایندګان اوسی. خپل، خپلوان، کاکا، ماما او ملګرو ته دی احمدزی او محمد زی او ادریمزی او سنګچارکی او دا او هغه قوم او سیمی به دی. اما په دولتی پوستو کی دا لوړ پوړی د ملت نمایندګان او سیاسی ممثلین باید داسی تخلص استعمال کړی چه د یو محدودی پوری اړه ونه لری. په دولتی لوړ پوړو پستونو کی دداسی نومونو او تخلصونو استعمال راته مناسب نه ښکاری او د ملی وحدت لپاره مرسته نه کوی. خلص داچه د افغانستان په ګټه یی نه بولم.

که تاسی څوک د پاکستان د ای اس ای جاسوس بولی هغه د همغه سړی کار دی او همغه سړی ټاپه ده. خو زه درته وایم داچه په افغانستان کی خپله افغانان دی ته ورسیــږی چه په مستقیمه توګه د جهان سره اړیکی ولری او د ای اس ای لاس په منځ کی لنډشی او تاسی د داسو خلکو مخالفت کوی نو تاسی خپله ووایاست چه په عمل کی چاته کار کوی؟ کارت(ای دی) او معاش یی پریږده. عملا تاسی دهغوی منافع ساتی.
زه تاسی ته د هوښیاری او متانت او دور اندیشی سپارښت کوم. لنډ فکری په کار نه ده. پریږدی چه خپله افغانان ددی توان پیداکړی چه په خپل وطن کی خپل سرنوشت په لاس کی ونیسی او په دی مرحله کی حد اقل د پاکستانیانو او نورو تالی څټو لاس لنډ شی. او که تاسی وایی نه نو بیا همغه ټاپه خپل استدلال لری.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

داچه محترم پروفیسور علی احمد جلالی ثابته کړه چه د خدمت ملا یی تړلی او د بی کفایتی په مقابل کی مبارزه کوی، سیستم ساز دی نه سیستم برانداز، او د امتیاز نه تیریږی ، نړیوالی او علمی شخصیت دی او د دنیا سره ښی اړیکی لری دداسی شخص انتخاب د افغانستان د خلکو په ګټه دی او تمامو ته لازمه ده ورسره همکاری و کړی.

خدای دی مونږ ته د نیکی هدایت وکړی


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de